ספר תורה

# کلام الله

# تورات

در مطبع ناپس طبع شد
والدیت چپل لندن

Zpas
890

# كلامِ الله

يعني

## كتابونه دَ زوړِ عهد

(چه په كښې مندرج دِي توريت زبور او دَ پيغمبرانو صحيفي)

## او دَ نوِي عهد

(يعني انجيل دَ خداوند يسوع مسيح)

له اصلي ژبې عبراني او يوناني په پښتو ژبه كښې ترجمه شه

دِ برټِش او فارن بَيبل ثوثَيِټي له طرفه

لندن

سنه ۱۸۹۰ع

PENTATEUCH IN PASHTU.

TRANSLATED BY THE REV WORTHINGTON JUKES.

FESHÁWUR

THE BRITISH AND FOREIGN BIBLE SOCIETY.

LONDON.

1890.

# نومونه دَ کتابونو دَ زوړ عهد


| صفحه | | صفحه | |
|---|---|---|---|
| | پیدایښت | | واعظ |
| | خروج | | غزل الغزلات |
| | احبار | | اشعیا |
| | عدد | | ارمیاه |
| | استثنا | | مرثیه |
| | یشوع | | حزقي ایل |
| | قاضیان | | داني ایل |
| | روث | | هوشع |
| | اول-سموئیل | | یوئیل |
| | دویم-سموئیل | | عاموس |
| | اول سلاطین | | عوبدیا |
| | دویم سلاطین | | یونه |
| | اول تواریخ | | میکاه |
| | دویم تواریخ | | ناحوم |
| | عزرا | | حبقوق |
| | نحمیاه | | صفنیاه |
| | استیر | | حجي |
| | ایوب | | ذکریا |
| | ذبور | | ملاکي |
| | امثال | | |




# پیدایښت

یعني اوّل کتاب دَ حضرت موسیٰ

## اوّل باب

۱،۲ ۱ په ابتدا کښې الله آسمانونه او زمکه پیدا کړل ۲ او زمکه ورانه او
خالي وه او په مخ دَ ژورئ تیاره وه او دَ الله روح دَ اوبو په مخ
۳،۴ رپیده ۳ او الله وویل چه رڼا دِ شي نو رڼا شوله ۴ او الله رڼا ولیدله
۵ چه ښه ده نو الله رڼا له تیارې نه بیله کړله ۵ او الله رڼا ته ورځ
وویله او تیارې ته ئې شپه وویله نو ماښام او صباح وړمبئ ورځ
۶ شوله ۶ او الله وویل چه دَ اوبو په مینځ کښې دِ فضا شي او اوبو دِ له
۷ اوبو بیلې کاندِ ۷ نو الله فضا پیدا کړه او په مینځ دَ اوبو کښې چه دَ
فضا دَ لاندِ وې او دَ اوبو چه دَ فضا دَ پاسَ وې جدائي ئې وکړله او
۸ هم هغه شان وشه ۸ او الله هغه فضا ته آسمان وَوایه او ماښام
۹ او صباح دویمه ورځ شوله ۹ او الله وویل چه هغه اوبه چه دَ آسمان
دَ لاندِ دي یو ځاي دِ جمع شي او وچه دِ ښکاره شي او هم هغه شان
۱۰ وشه ۱۰ او الله وچې ته زمکه وویله او جمع شوو اوبو ته ئې قالي دریاب وَوایه
۱۱ او الله ولیدل چه ښه دي ۱۱ او الله وویل چه زمکه دِ واښه او
هغه بوټي چه تخم نیسي او میوه داري وَنې چه دَ خپل جنس په شان
میوې نیسي چه خپل تخم په کښې په زمکه باندِ وي و بوکوي او هم
۱۲ هغه شان وشه ۱۲ پس زمکي واښه او بوټي چه تخم دَ خپل جنس
په شان نیسي او وني چه میوه نیسي او تخم دَ خپل جنس په شان
۱۳ په کښې وي وویستل او الله ولیدل چه ښه دي ۱۳ او ماښام او صباح
۱۴ دریمه ورځ شوله ۱۴ او الله وویل چه دَ آسمان په فضا کښې دِ نورونه